## ګډه مطبوعاتي پاڼه

**د عامې روغتيا وزارت له خوا د يونيسف او نړيوالی روغتيايي ادارې په مرسته د واکسيناسيون اونيزه پيل شوه.**

**کابل:** د حمل ۳۰ نېټه. د عامې روغتيا وزارت له خوا د يونيسف او نړيوالی روغتيايي ادارې په تخنيکی او مالی لګښت د واکسيناسيون اونيزه د دويم پلا له پاره پيلېږی. دا هر اړخيزه مجموعه داسې برابره شوی ترڅو له ګواښ سره مخ ماشومان او هغه لری پرتی ولسوالي چې په مشکله ورته لاس رسی کيږي تر پوښښ لاندی راوړی.

سږ کال په افغانستان کې د واکسيناسيون اونې د واکسين له پاره د هر اړخيزی همغږی تر عنوان لاندی پلی کيږی ترڅو جوته کړی چې د واکسيناسيون پروګرامونه په اولويت کې ځای لری او د هيواد لر ليد تشکيلوی. د يو لړ بيلابيلو نوښتونو په لاره اچولو سره هڅه شوی ترڅو خلکو کې د واکسين په ارتباط د پوهې کچه لوړه شی او د واکسين له پاره نورې مرستی هم چمتو کړی شی.

لکه د تير کال د واکسيناسيون د اونيو په شان سږ کال هم پټلی کيږی ترڅو د بيلابيلو ورکشاپونو، غونډو، مطبوعاتي کمپاينو، لمانځنو او د ټولنی د هڅونی له لاری د واکسيناسيون اونيزی په برياليتوب سره ترسره شی. د افغانستان دولت په دی باور دی چې خلکو ته د واکسيناسيون د اونی څخه په ګټې اخيستلو سره نور روغتيايي خدمتونه عرضه کړی.

انګيرل شوی چې په ۵۰ ولسواليو کې د ۵ کالو څخه کم شا وخوا څه دپاسه سل زره کوچنيان د دغه خدمتونو څخه برخمن شی. نوموړی ولسوالی داسې دی چيرې چې د واکسيناسيون د تطبيق کچه ټيټه او ماشومان په بشپړ ډول نه دی واکسين شوی. سربيره پر دی د خلکو د روغتيا او تغذيې حالت په نظر کې نيولو سره هڅه شوی ترڅو د دغو خدمتونو د تقاضا لوړولو په برخه کې خلکو ته پوره آګاهی ورکړل شی.

په دې اونې کې د شرې او پوليو سربيره د توبرکلوز، ديفتری، توری ټوخلی، تيتانوس، تور زيړی او هب واکسينونه د ۱۶۸۵ ټيمونو او لږ تر لږه ۵۰۵۵ روزل شوی پرسونل له خوا تطبيق کيږی.

د ورته نوښتونو له لارې د افغانستان دولت غواړی تر څو د انکشافی زريزی ۴ هدف چې عبارت دی د ۲۰۱۵ لمريز پوری د ماشومانو د مړينې کچه دوه پر دری راکمولو څخه دی ځان ور نږدی کړی.

په دې برخه کې د افغانستان دولت لا د پخوا راهيسی يو لړ لاس ته راوړنی درلودلی او هغه دا چې د واکسيناسيون خدمتونه يې تر ډير کچه غځولی مګر بيا هم يو لړ ننګونی تر سترګو کيږی. هرو ۵ نويو زيږيدلو ماشومانو کې يې يو نه واکسين کيږی، جغرافيوی تفاوتونه اوس هم شته او طبيعی آفتونو او معضلو ماشومانو ته لاس رسی تر خپل اغيز لاندی رواړی.

په دی اونيزه کې د هغه کوچنيانو چې عمرونه يې د ۶ تر ۵۹ مياشتو وی د تغذيې حالت وڅيړل شی او د دوی د ناوړه تغذيې د لری کولو په برخه کې لازمې مرستې برابری شی. هغه ښځو ته به چی د اميندوارې په عمر کې وی د اوسپنې او فوليک اسيد تابليتونه هم ورکړل شی.

*******

**For more information, please contact:**


Ministry of Public Health, Dr Mohammad Taufiq Mashal, Acting Director General Preventive Medicine, mtmashal@yahoo.com ; + 93 708 284 144
UNICEF Kabul, Aziz Froutan ; aafroutan@unicef.org; +93 (0) 798 50 7113
WHO Liisamaria Keates; keatesl@afg.emro.who.int; + 93 (0) 702 217 730